**بسم الله الرحمن الرحيم**

# د حسينـې رژيم د پانګوالو څخه د رانده تقليد په وسيله خلک اړ کړي چې يا لوږه او يا ويروس انتخاب کړي؛ يوازې خلافت کولای شي چې دغه ټولنيوونکې ناروغۍ پرته له دې چې اقتصاد يا ژوند ته زيان واړوي، له منځه يوسي

**اې خلکو!** موږ اوس په ډېره لويه او مقدسه (د روژې) په مبارکه مياشت کې يو او زموږ ايمانونه هم په دغه مياشت کې قوي کېږي او وخت له موږ څخه ډېر په تېزۍ او بې پروايۍ تېرېږي. الله سبحانه وتعالی د دې مبارکې مياشتې په هکله داسې فرمايلي دي:

**[شَهْرُ رَمَضَانَ الَّذِي أُنْزِلَ فِيهِ الْقُرْآنُ هُدًى لِلنَّاسِ وَبَيِّنَاتٍ مِنَ الْهُدَى وَالْفُرْقَانِ فَمَنْ شَهِدَ مِنْكُمُ الشَّهْرَ فَلْيَصُمْهُ]**

***ژباړه:*** *روژه هغه مبارکه مياشت ده چې د بشريت د لارښوونې لپاره مو پکې قرآن نازل کړ تر څو د حق او باطل تر منځ ښکاره ښبې ښبانې خلکو ته وښيي. (البقره: ۱۸۵)*

او الله سبحانه وتعالی بل ځای د قرآن په هکله داسې فرمايلي دي:

**[إِنَّا أَنْزَلْنَا إِلَيْكَ الْكِتَابَ بِالْحَقِّ لِتَحْكُمَ بَيْنَ النَّاسِ بِمَا أَرَاكَ اللَّهُ وَلَا تَكُنْ لِلْخَائِنِينَ خَصِيمًا]**

***ژباړه:*** *موږ قرآن په رېښتيا سره پر تاسې باندې د حق ويلو لپاره نازل کړ، نو تاسې بايد د خلکو تر منځ په حق سره فيصله وکړئ او له خاينانو څخه ملاتړ مه کوئ. (النسا: ۱۰۵)*

خو موږ وینو چې اوسني ملتونه څنګه په څرګند ډول د کفر له سیکولر پانګوالې ایډیولوژۍ څخه پیروي کوي او ګمان کوي چې د دوی دولتونه د کووېډ-۱۹ ویروس له ناورین څخه د دوی د خاورو په ساتلو کې ناکام نه دي، مګر دوی په میلیاردونو خلک په عجیبه طریقه سره په خپلو کورونو کې بندي کړي او د خلکو اقتصاد او ژوند یې فلج کړی او دغه ناورین لاپسې سختوي. د حسینه رژیم په پټو سترګو د کفر د پانګوالۍ نظام له ایدیولوژۍڅخه پیروي کوي او د الله سبحانه وتعالی دین ته یې شا کړې ده. د کوویډ-۱۹ له ناورین سره د غربي ملتونو د پلانونو په څېر معامله کوي. د پایلې په ډول بنګله دېش هم د غرب په څېر په ناورین کې راګیر دی، دولت هم خلکو ته پرته له دې چې په دغه مصیبت باندې اخته او له لوږې څخه وکړېږي، بله لاره نه ده برابره کړې او په همدغه ناورین کې یې یوازې پرې ایښي دي؛ ځکه نو موږ حزب التحریر ولایه بنګله دېش تاسو ته د دغه بحران (پانګوالۍ سیستم) د له منځه وړلو او د اسلامي ایدیولوژۍ(د الله سبحانه وتعالی د دین پر اساس) د دغه ناورین لپاره حللارې بیانوو. که موږ وکولای شول چې د خپل ایمان مطابق قدمونه واخلو، نو دغه روژه به د موږ لپاره خپل اصل ته راګرځېدو میاشت شي. انشاالله.

**لومړی:** دغو سیکولر پانګوال چارواکو د خپلو خلکو لپاره ډېرې نازکې سیاسي، تجارتي او ستراتیژېکې ګټې رسم کړې دي. څنګه چې چین په لومړیو کې دغه وژونکی ویروس پټ کړی و، همدارنګه پانګوالې اروپا او امریکا هم د دغه ویروس د چټک خپرېدلو مخنیوی ونه کړ. لکه څنګه چې د کرونا ویروس مرض لومړی د چین په ووهان ښار کې راپیدا او بیا یې ټول چین او اوس لږترلږه په ټوله نړۍ کې تیت شوی دی، خو د حسینې رژیم د کارپوهانو له خبرداریو سره سره، بیا هم په بنګله دېش کې د دغه وژونکې ناروغۍ شتون د مجیب د کلیزې د پروګرام د نه بندولو او له چین او غربي ملتونو سره یې د تجارتي او سیاسي اړیکو د نه قطع کولو لپاره پټ کړی و، حتی تر هغو پورې چې دوی

کله باوري شول، نو په ډېر بزدلانه ډول سره یې هر څه ودرول. بالاخره ویلای شو چې د حسینې رژیم له بهر څخه د خلکو د راتگ او د دغه مرض د خپرېدو په مخنیوي کې هېڅ کوم موثر اقدام ونه کړ.

**دویم:** کله چې دغه سیکولر چارواکي او د دوی پانگوالو دوستانو ولیدل چې دغه ویروس د هېواد د مالدارو او غریبو تر منځ توپیر نه کوي، لوړپوړي سیاسیون، تجاران او نفوذ لرونکي خلک هم په دغه مرض اخته کېږي او له روغتیایي چوپړ پرته ښايي دوی مړه هم کړي، نو پر خلکو یې غیر انساني بندیزونه ولگول او خلک یې د خپلو شومو سیاستونو ښکار کړل. تر اوسه د کرونا ویروس لومړی مثبته پېښه د مارچ په اتمه تشخیص شوې ده، مگر د حسینې رژیم یې په اړه ډېر بې تفاوته دی. کله چې د دوی د مارچ په ۲۳مه د مارچ له ۲۶مې څخه د اپرېل تر۴ پورې عمومي رخصتي اعلان کړه، نو دولت په میلیونونو خلکو ته له مرکز څخه د وتلو اجازه هم ورکړه، او په همدغه کار سره یې یاد مرض په ټول هېواد کې تیت او د خپلې روغتیا د خوندیتوب لپاره یې د وي آی پي (د ډېرو مهمو خلکو ) روغتونونه اماده کړل. د دې لپاره چې په هېواد کې کوم خلک د دغه ویروس له لاسه وژل کېږي او دولت یې له ملامتیا څخه ځان خلاص کړي، نو رسنیو یاد مرگ ته د (تبې او ټوخي د مرگ) نوم ورکړ.

**درېیم:** د یادو بندیزونو له امله په ناڅاپي ډول په نړۍ کې میلیونونو خلکو خپلې دندې، کارونه او تجارتونه له لاسه ورکړل. په دغه حالت کې د حسینې رژیم د پانگوالو دوستانو د وفاداره سرپرست په څېر راښکاره شو، هغه دا چې دولت د ۱۱،۳میلیارده ډالر چې له ۹۵٦،۱۹میلیارده ټاکا سره برابر دي او تقریباً د کورني ناخالص تولید ۳،۳مه برخه جوړوي، د مرستو بسته له بحران څخه د هېواد د اقتصاد د خوندیتوب لپاره اعلان کړه. په یاده مرسته کې د کمې گټې امتیازات ډېرو پانگوالو او لویو شرکتونو ته ورکول کېدل

چې دوی ډېر له وخته بانکونه غلا کړي وو او بیا یې د امریکا، اروپا او بریتانیا د پلانونو څخه په کورکورانه ډول تقلید کولو، تر څو په لومړي قدم کې د پانګوالو له ګټو او سهمونو څخه ساتنه وکړي او خلک یې په دغه ناورین کې په خپل حال پرېښودل. موږ وینو چې د حسینې رژیم زرګونو خلکو ته د کارګرۍ لباس وراغوستی، په دې سره غواړي چې د همدغو پانګوالو دوستانو تجارتونه خوندي وساتي او پرته له کوم خوندیتوب څخه دوی ته اجازه ورکوي چې خپلې فابریکې بیا پرانیزي او فعالیتونه شروع کړي.

**څلورم:** د دې لپاره چې دولت سخت بندیز اجرا کړی وي، خلک په دغو خبرو سره تهدیدوي چې خوښه مو خپله (که په کور کې پاتېږی او یا قبر ته ورځی). مګر خلک ویني چې که په کور کې پاتې شي، له مرګ سره مخ کېږي؛ ځکه د دولت په دغه خبره سره دوی غلو ته ورسپاري، خو غریب خلک د کار لپاره سرکونو ته راوزي او ډوډۍ هم د دغه ویروس په انتقال متهمه ده. مګر دوی وایي چې خلک پرته له اړتیا سرکونو ته راوزي او ټولنیزه فاصله هم نه مراعاتوي او د دې په څېر نورې ډېرې خبرې شته.

**پایله:** کرونا ویروس موږ ته وښودله چې د غربي پانګوالي هېوادونو دولتونه څومره زیانمن شوي دي! غرب او د دوی غلام چارواکي غواړي چې د کرونا ویروس له امله د دوی د اقتصاد کمزوري پټه کړي، په داسې حال کې د پانګوالۍ مصنوعي اقتصاد د سهامو په بازار، پیسو بازار، احتکار او سود باندې ولاړ دی. په اصل کې یوازې د پوکانې په څېر لوی اقتصاد یې جوړ کړی دی. دغه مصنوعي اقتصاد د غنې له تارونو څخه هم کمزوری دی او د کرونا د بحران په څېر بحران ورته کفایت کوي تر څو یې ټول تاسیسات ولړزوي او په ډېره اسانۍ سره یې له منځه تلل خلکو ته په ډاګه کړي. په داسې حال کې چې پراخه کورنیو ناخالصو تولیداتو او میلیاردي پروژو ته د خلکو د سیاسي حقونو لکه روغتیایي خدمتونو پر ځای ترجبح ورکول کېږي، نو د دوی د پرمختګ اصطلاح او تیوري

تر سختو پوښتنو لاندې راځي. د دوی د پرمختګ په تیوری کې د خوندیتوب لازمي موادو لکه PPE او د ډاکټرانو لپاره ماسکونو، روغتیایي کارکوونکو، تنفس الې یا په کافي اندازه عاجل بسترونو ته لومړیتوب نه ورکول کېږي. په داسې حال کې چې ټول بنګله دېش د کوویډ-۱۹ له ناورین سره لاس او ګرېوان دی، خو دوی ټول ۱۹۲ د عاجل بستر کټونه لري [Dhaka Tribune: 20 April 2020]. په امریکا او اروپا کې د روغتیا کارکوونکي په کوڅو کې خپل قهر بیانوي چې دوی له سپر څخه پرته جنګ ته استول شوي دي او د عاجلو بسترونو او تنفس الو د کموالي له امله مړي د غرونو په شان پراته دي.

په نړیواله کچه دغه باور ټکان ورکوونکی دی چې څوک د ووایي کپیټلېزم هغه ایډیولوژي ده چې بشریت ته پاملرنه کوي. حتی په غربي پانګوالو هېوادونو کې خلکو ټکان خوړلی چې حاکم سیستم یې دوی له مرضونو او لوږې څخه په خوندي ساتلو کې پاتې راغلی. له دې ټولو ناکامیو سره حسینه او نور مسلمان چارواکي د الله سبحانه وتعالی نافرماني کوي، د اسلام روښانه لارښوونې ردوي او په ړانده ډول غربي سیاستونه تعقیبوي، تر څو له دغه بحران څخه ځانونه خلاص کړي چې په پایله کې په میلیونونو کسان له لوږې، فقر او نورو ستونزو سره مخ کړي دي.

**اې مسلمانانو!** د خلافت دولت د ټولنیوونکو مرضونو، لوږې او فقر د له منځه وړول لپاره روښانه لارښوونې لري او خلیفه مکلف دی چې دا ډول پېښو ته پاملرنه وکړي. اصلاً خلیفه د سهامي شرکتونو هېوادونو په څېر نه دی چې یوازې څو پانګوالو او ګټو ته یې پاملرنه وکړي، مګر نوموړی د الله سبحانه وتعالی له وېرې خپل ملت او ټول بشریت ته پاملرنه کوي. په دې هکله رسول الله صلی الله علیه وسلم داسې فرمایلي دي:

**«الْإِمَامُ رَاعٍ وَمَسْئُولٌ عَنْ رَعِيَّتِهِ»**

*__ژباړه:__ په اصل کې امام (خلیفه) د خپل رعیت لارښوونکی او مسئول دی.*

(البخاري/مسلم)

د خلافت نظام به خلک نه د خوراکي توکو په بحران کې او نه هم په لوږه کې پرېږدي لکه څنګه چې پانګوال دولتونه د دروغو وعدې ورکوي یا یې د مالدارو خلکو زړه سوي او بخششونو ته سترګې په لار کړې وي. تر ډېره د خلافت نظام به د خلکو مسوولیت پر غاړه اخلي او د دوی له سرچینو او قدرتونو نه په ګټه اخیستلو سره به د خپلو اتباعو حقونه پرته له دین او نژاد څخه ادا کوي او په هر وخت کې به له غذایي او روغتیایي پاملرنو څخه برخمن وي. د خلافت نظام اقتصاد به د توکو په تولید او خلکو ته د خدمتونو برابرولو پر اساس ولاړ وي، چې په دې سره به د کارخانو کارکوونکي او د خرڅلاو دوکانونه په دوامدار ډول فعالیت کوي، د روغتیا د برخې دفترونه او مرکزونه به هېڅ وخت هم د داسې ناورینونو له امله نه بندیږي.

د دې ترڅنګ د دغه سیستم تر چتر لاندې به د قرض لپاره زیاتې روپۍ (سود) نه ورکول کېږي، دولت به دغه توانایي لري چې هم په عادي او هم په بحراني حالت کې د خپل عاید څخه د خلکو د اړتیاوو د پوره کولو لپاره ګټه واخلي. په واقعیت کې اسلام هېڅکله هم خلک لوږې او مرض تر منځ په انتخاب کې نه مجبوروي. د رسول الله صلی الله علیه وسلم مبارک سنت دا دي چې دواړه روغتیایي خدمتونه او د اړتیاوو پوره کول د دولت له دندو څخه دي. رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي:

**«مَنْ أَصْبَحَ مِنْكُمْ آمِنًا فِي سِرْبِهِ مُعَافًى فِي جَسَدِهِ عِنْدَهُ قُوتُ يَوْمِهِ فَكَأَنَّمَا حِيزَتْ لَهُ الدُّنْيَا»**

***ژباړه:*** *هر چا چې خپله ورځ په صحتمندۍ او کورنۍ خوندیتوب سره پیل کړي او د ورځې لپاره یې اړتیاوې پوره وي، داسې دی لکه ټوله نړۍ چې د نوموړي په واک او اختیار کې وي. (الترمذي)*

**اې مسلمانانو!** له ختیځه تر لویدیځه د سیکولر پانګوالو چارواکو د بې شمېره ناکامیو او ناوړتیاوو سره مو، حزب التحریر ولایه بنګله دېش دغه ملت ته د دغه ټولنیوونکي مرض د مخنیوي لپاره د اسلام پر اساس څو مهمې پالیسۍ وړاندې کوو. د الله سبحانه وتعالی د لارښوونو سره سم د داسې ټولنیوونکو ناروغیو د مخنیوي لپاره باید لاندې کارونه وشي: دولت باید له اول څخه ناروغي کنترول کړي او ناروغي چې له هر ځای څخه راپیدا شوې، په همغه ځای کې ایساره کړي او په نورو سیمو کې روغ خلک باید خپل کار او تولید ته ادامه ورکړي. د دغه اجرااتو لپاره باید لاندې ټکي په نظر کې ونیول شي:

**لومړی:** خلافت د دولت په کچه باید داسې نوښتونه وکړي، تر څو مرض په هماغه راپیدا شوي ځای کې مهار کړي. بخاري یې په خپل صحیح کتاب کې له اسامه بن زید څخه روایت کړی دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه داسې وفرمایل:

**سَمِعْتَ مِنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الطَّاعُونِ فَقَالَ أُسَامَةُ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «الطَّاعُونُ رِجْسٌ أُرْسِلَ عَلَى طَائِفَةٍ مِنْ بَنِي إِسْرَائِيلَ أَوْ عَلَى مَنْ كَانَ قَبْلَكُمْ فَإِذَا سَمِعْتُمْ بِهِ**

**بِأَرْضٍ فَلَا تَقْدَمُوا عَلَيْهِ وَإِذَا وَقَعَ بِأَرْضٍ وَأَنْتُمْ بِهَا فَلَا تَخْرُجُوا فِرَارًا مِنْهُ قَالَ أَبُو النَّضْرِ لَا يُخْرِجْكُمْ إِلَّا فِرَارًا مِنْهُ»**

*ژباړه: که په یوه ځمکه کې تږلنیوونکی مرض راپیدا شي، نو هلته مه ځئ او که دغه وبا ستاسې خاورې ته هم راورسېږه، نو بیا له دې ځای څخه بل ځای ته مه ځئ.*

په یو بل حدیث شریف کې له مسلم څخه روایت شوی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:

**قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «الطَّاعُونُ رِجْزٌ أَوْ عَذَابٌ أُرْسِلَ عَلَى بَنِي إِسْرَائِيلَ أَوْ عَلَى مَنْ كَانَ قَبْلَكُمْ فَإِذَا سَمِعْتُمْ بِهِ بِأَرْضٍ فَلَا تَقْدَمُوا عَلَيْهِ وَإِذَا وَقَعَ بِأَرْضٍ وَأَنْتُمْ بِهَا فَلَا تَخْرُجُوا فِرَارًا مِنْهُ»**

*ژباړه: وبا هغه ناورین دی چې په بني اسراییلو کې او یا له تاسو څخه مخکې خلکو کې خپره شوې وه، خو کله چې تاسو واورېدل چې په یو ځای کې وبا راغلې ده، نو تاسو هلته مه ځئ او که هلته هم خپره شوه چېرته چې تاسې یی، نو له هغه ځای څخه مه وځئ.*

چین په لومړیو کې د ووهان ښار چې هلته دغه وبا رامنځته شوې وه قرنطین نه کړ او ۴۳۰۰۰۰ پروازونه له چین حتی له ووهان څخه چې د وبا د راپیدا کېدو مرکز او امریکا ته ترسره شول، ډېر وروسته چین له دغه بحران څخه خبر شو. په همدې ډول د حسینې رژیم له چین سره چې د دغه مرض مرکز او د ووهان په ګډون په اروپا کې په دغه ویروس له اخته هېوادونو سره هوایي پروازونه خلاص پرې ایښي و.

**دويم:** د ټولنيوونکو ناروغيو پر وخت د اسلام لارښوونه دا ده چې ناروغ کسان بايد له روغو کسانو څخه بېل وساتل شي. رسول الله سلی الله عليه وسلم په دې هکله فرمايي:

**«لا يورد ممرض على مصح»**

***ژباړه:*** *ناروغ کسان له روغو کسانو سره مه يو ځای کوئ.* (البخاري)

دولت بايد ناروغ کسان تشخيص کړي او له نورو څخه يې بېل کړي او له کوم لګښت پرته روغتيايي چوپړتيا او درمل ورته برابر کړي. له بل پلوه دولت بايد خلک د قران او سنتو په واسطه تشويق کړي چې دغه ټولنيوونکي مرض په خپله له يو ځای څخه بل ځای ته خپرېږي، نو دوی په خپل ځای کې پاتې شي. دولت بايد هغوی ته چې د ناروغانو چوپړ کوي، د خوندي ساتلو وسايل برابر کړي، هغه يې که خپلوان او يا هم ډاکتران وي، نو په دې توګه به ياد مرض ټولنې ته نه خپرېږي. موږ په بنګله دېش کې د خوندي ساتلو وسايلو د نه شتون له امله د ١١٪ د ډاکترانو او د روغتيايي کارکوونکو په ياد مرض د اخته کېدو شاهدان يو. له بل پلوه په ټولنه کې روغ کسان بايد خپل ورځني ژوند او اقتصادي کارونو ته ادامه ورکړي. په دې ډول سره ټولنيوونکی مرض نه شي کولای چې د خلکو ژوند او اقتصاد له منځه يوسي.

**درېيم:** د اسلام د قرنطين پاليسي د کپيټلېزم د قرنطين له پاليسۍ سره مخالفه ده، اسلام خلک نه قرنطين کوي، بلکې ناروغي قرنطين کوي او په پراخه کچه خلکو ته د پاکولو او پاک ساتلو د لارښوونو لپاره د پوره ماسکونو او PPE (د ځان لپاره د خوندي ساتلو وسايلو) په ورکولو سره پروګرامونه نيسي. سربېره پردې دولت خلک د دې څخه د ګټې اخيستلو لپاره تشويقوي. د دې ترڅنګ اسلام د لويو پېټو خپروونکو په هکله لارښوونې کوي چې څوک دغه ټولنيوونکی مرض لري، بلکې ناروغي نه لري؛ ځکه هره

ناروغي په لويو ټولنو کې په ناورين باندې نه بدلېږي. رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي:

## «لا ضرر ولا ضرر»

***ژباړه:*** *هره ناروغي مضره نه ده او نه هم زيان اړوي. (ابن ماجه)*

مګر دغه پټ خپرېدونکي کېدلای شي چې مضر وي، دولت کولای شي چې ډېر شمېر خلک د ازموينې لپاره يو ځای راوړي، نو ژر معلومېدلای شي چې پټ خپرېدونکی مرض دی او کنه.

**څلورم:** د خلافت د نظام د قانون له مخې، په اسلامي دولت باندې فرض ده چې د ټولو اتباعو لپاره له ديني او نژادي توپير څخه پرته بايد د روغتيا د خونديتوب لپاره اسانتياوې برابرې کړي. دولت بايد څېړنيز مرکزونه جوړ کړي، تر څو له دغه ټولنيوونکي مرض څخه د ښه کېدلو لپاره هر څه مطالعه کړي، هغه که غذايي مواد، تمرين يا درمل وي. دغه ټول ډولونه که بوټي او د ويټامينونو پوره کوونکي وي. دولت بايد د ټول نفوس په طبيعي ډول د مرض د پرمختګ احتمال هم مطالعه کړي، نو په ښه ډول ورته واکسين جوړېدلای شي. د اوسنيو چارواکو خلاف دولت به د روغتيا سکټور په پانګوالو کافرو پورې وابسته نه پرېږدي او يا دا چې د پانګوالو شرکتونو لپاره د پيسو د پيداکولو وسيلې وګرځي؛ ځکه چې دا ټول اسلامي شريعت منع کړي دي.

**پنځم:** احتياط د بې مسووليتۍ په مانا نه دی، اوسني رژيمونه د احتياط تر نامه لاندې د خلکو په منځ کې د بې مسووليتۍ مفکورې ته وده ورکوي، موږ د دې پايلې اوس وينو چې د مړو له ښخولو څخه مخنيوی کوي، بلکې د ناروغانو د حالت د بهتر کولو او يا نورو

پاملرنو لپاره هېڅ اقدام هم نه کوي. د خلافت دولت به خلکو ته ډاډ ورکړي چې د عامه احتیاط سره به مریضانو ته پاملرنه کوي، هغوی ته چې د مرض پر وړاندې کمزوري وي، لکه مشران خلک یا هغوی چې له وخته د سږو، نفس تنګۍ او یا شکر په مرضونو اخته وي، ځانګړې پاملرنه کوي. دولت به خلکو ته په وار وار وریاد کړي چې له ناروغۍ څخه نه، بلکې له الله سبحانه وتعالی څخه وېره ولري او مرګ او ژوند یوازې او یوازې د الله سبحانه وتعالی په لاس کې دی. الله سبحانه وتعالی په دې هکله داسې فرمايي:

**[قُلْ لَنْ يُصِيبَنَا إِلَّا مَا كَتَبَ اللَّهُ لَنَا هُوَ مَوْلَانَا وَعَلَى اللَّهِ فَلْيَتَوَكَّلِ الْمُؤْمِنُونَ]**

***ژباړه:*** *ووایه چې هېڅ شی د الله سبحانه وتعالی له ارادې پرته موږ ته نه رارسېږي، هغه زموږ ساتونکی دی او مومنان باید یوازې په الله سبحانه وتعالی باندې توکل وکړي. [التوبه:۵۱]*

**پایله:** اسلام یوازې روغتیا ته د مضرو شیانو د کمولو او د ناورین پر مهال د مالي سپما لپاره لارښوونې نه کوي، بلکې د داسې ټولنیوونکو ناروغیو پر وخت هر مسلمان ته د ژوند په هره برخه کې لارښوونه کوي. البخاري د حضرت عایشې رض څخه روایت کړی دی چې نوموړې وویل:

**«سَأَلْتُ رَسُولَ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم عَنْ الطَّاعُونِ فَأَخْبَرَنِي أَنَّهُ عَذَابٌ يَبْعَثُهُ اللَّهُ عَلَى مَنْ يَشَاءُ وَأَنَّ اللَّهَ جَعَلَهُ رَحْمَةً لِلْمُؤْمِنِينَ لَيْسَ**

**مِنْ أَحَدٍ يَقَعُ الطَّاعُونُ فَيَمْكُثُ فِي بَلَدِهِ صَابِرًا مُحْتَسِبًا يَعْلَمُ أَنَّهُ لَا يُصِيبُهُ إِلَّا مَا كَتَبَ اللَّهُ لَهُ إِلَّا كَانَ لَهُ مِثْلُ أَجْرِ شَهِيدٍ»**

***ژباړه:*** *ما د الله سبحانه وتعالی له رسول څخه د طاعون په هکله وپوښتل، هغه راته وویل چې دا د الله سبحانه وتعالی له طرفه یوه جزا وه او الله سبحانه وتعالی د مومنانو لپاره د شفقت یو سرچینه وګرځوله. که یو سړی د ټولنیوونکې ناروغۍ پر مهال په خپل وطن کې ناروغ پاتې شي او ځان الله سبحانه وتعالی ته وسپاري، نو هغه څه چې الله سبحانه وتعالی ورته لیکلي له هغه پرته به بل څه شی ورته ونه رسېږي، او نوموړی به د شهید اجر ترلاسه کړي.*

مسلمانان باید له وحشت او وېرې څخه پرته د خپلې مریضۍ په امتحان کې صابر واوسي، د الله سبحانه وتعالی د ثواب په تمه دې وي او د نړۍ ښتن ته د دعا وکړي، نو الله سبحانه وتعالی به له نوموړي سره مرسته وکړي او هغه به له یادې ناروغۍ څخه روغ کړي.

اسلام په دې طریقې سره باور لري چې د ټولنیوونکو ناروغیو تاثیرات کم دي او اجازه به ورنه کړي چې ټول هېواد ونیسي، د دغه پوره قرنطین په څېر حالت نه غواړي لکه څنګه چې موږ یې اوس په امریکا او نورو کپیټلیستي هېوادونو کې وینو. په تاریخ کې مسلمانان ډېر ځله له داسې سره ورته حالتونو سره مخ شوي دي. اسلامي امت له هجرت څخه وروسته د شپږمې پېړۍ په منځ کې د الله سبحانه وتعالی له قهر(Al-Shaqfa) سره چې په پوست کې له سوري کېدلو څخه رامنځ ته شوی و، امتحان شوی دی او اوس پېژندل شوې چې د استافېلوکوک له باکتریا څخه راپیدا شوی دی. همدارنګه مسلمانان ۷۴۹ هـ ش کې د اتمې هجري پېړۍ په منځ کې په دمشق کې د ټولنیوونکې ناروغۍ په

وسیله امتحان شوي دي او په ټولو دغو قضیو کې جوماتونه نه وو تړل شوي او د جمعې، تراویح او ټول هغه لمونځونه چې په یو ځای سره ادا کېږي، نه دي بند شوي او روغ کسان خو هېڅ کله هم په کور کې نه دي بند کړل شوي، مګر ناروغ کسان بېل کړل شوي دي او روغ کسان به د کارونو لپاره بېرون وتل. دوی جوماتونو ته د لمونځونو لپاره تلل او الله سبحانه وتعالی ته به یې دعاګانې کولې چې دوی د ناروغۍ له ضررونو څخه وساتي، د روغتیا د خطر سربېره دوی به مریضانو ته پاملرنه کوله.

**اې مسلمانانو!** د کرونا ویروس باید اوس تاسې له بل هر وخت څخه ډېر الله سبحانه وتعالی ته راوګرځوي. د کفارو په خبرو مه غولېږئ، غربي چارواکي او د هغوی غلامان غواړي د الله سبحانه وتعالی دغه امتحان ته د یوې دسیسې نوم ورکړي او غواړي تاسې د خپل رب سره له نږدېوالي څخه لرې وساتي. پانګواله نړۍ په یو سخت ناورین کې واقع ده چې یاد ناورین د الله سبحانه وتعالی د یو ډېر واړه مخلوق له لاسه رامنځ ته شوی دی، مګر موږ د دې شاهدان یو چې د حسینې په څېر سیکولر چارواکي بیا هم د کفارو په ایدیولوژۍ پسې منډې وهي، چې دغه ایدیولوژي نه شي کولای بشر ته پاملرنه وکړي، قدم په قدم له هغوی څخه پیروي کوي او درملنه او روغتیا له دوی څخه غواړي. له سعید رحمه الله څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:

**«لَتَتْبَعُنَّ سَنَنَ مَنْ كَانَ قَبْلَكُمْ شِبْرًا شِبْرًا وَذِرَاعًا بِذِرَاعٍ حَتَّى لَوْ دَخَلُوا جُحْرَ ضَبٍّ تَبِعْتُمُوهُمْ قُلْنَا: يَا رَسُولَ اللَّهِ الْيَهُودُ وَالنَّصَارَى؟ قَالَ: فَمَنْ؟»**

***ژباړه:*** *تاسې باید قدم پر قدم د هغوی له لارې څخه پیروي وکړئ چې له تاسو څخه مخکې راغلي دي، که هغوی د سوسمار غار ته ننوتل، تاسې هم ورپسې ورننوځئ. موږ*

*وويل، اې د الله سبحانه وتعالی رسوله ستا مطلب یهود او مسیحیان دي؟ نوموړي وويل نه، هغوی په غلطه روان دي. (البخاري او مسلم)*

نور هېڅ شی هم نه شته چې له دغو چارواکو څخه د ورته تمه وشي، په اصل کې دوی هغه خلک دي چې دغه فتنې او بحرانونه یې راوستل، چې اوس ټولې نړۍ ته خپاره شوي دي. الله سبحانه وتعالی فرمايي:

**[ظَهَرَ الْفَسَادُ فِي الْبَرِّ وَالْبَحْرِ بِمَا كَسَبَتْ أَيْدِي النَّاسِ لِيُذِيقَهُمْ بَعْضَ الَّذِي عَمِلُوا لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُونَ]**

***ژباړه:*** *په وچه او اوبو کې د ټل لپاره تباهي د انسانانو له سرغړونو څخه رامنځ ته کېږي، الله سبحانه وتعالی دوی ته د ځینو بدو اعمالو سزا ورکوي، تر څو خپلو کړنو ته پام وکړي او بېرته الله سبحانه وتعالی ته راوګرځي. [الروم: ۴۱]*

څکه نو په دغه مبارکه میاشت کې چې د قران د نازلېدو میاشت ده، اې مسلمانانو را مخکې شئ او وعده وکړئ چې موږ له تاسو سره په سیاسي هڅو کې د دغه سیکولر پانګوالو چارواکو په لرې کولو کې برخه اخلو او وایئ چې موږ هېڅکله هم له دغه سیکولر پانګوال سیستم څخه ملاتړ نه کوو او له چارواکو نه مو په قصدي یا غیر قصدي ډول وېره لرې کړئ او وایئ چې موږ د الله سبحانه وتعالی د دین د پوره تطبیق لپاره د رسول الله صلی الله علیه وسلم په طریقه د راشده خلافت د بیا تاسیس لپاره له تاسو سره یو ځای هڅو ته ادامه ورکوو، چې هغه پر ځمکه باندې د الله سبحانه وتعالی رحمت دی چې موږ ۹۹ کاله مخکې د ۱۳۴۲ کال د رجب په ۲۸مه له لاسه ورکړی دی.

رسوال الله صلی الله علیه وسلم فرمايي:

# «انما السطان ظل الله في الأرض»

***ژباړه:*** *خليفه پر ځمکه باندې د الله سبحانه وتعالى د رحمت سيورى دى.*

**حزب التحرير**

**ولايه بنګله دېش**